CORE
Cultural Orientation Resource Exchange


Pashto Version

# د کډوالو لپاره سرچینې

## متحده ایالات قوانین - حقونه او مسوولیتونه

په متحده ایالاتو کې قوانین د ټولو خلکو د حقونو ساتنه کوي. تاسو باید په قانون ځان پوه کړئ او له هغو پیروي وکړئ. تاسو باید په دې ځان پوه کړئ چې که قانون مات کړئ نو څه به کېږي.

**د قانون ماتول د جریمو یا زندان سبب کېږي او ستاسو د کډوالۍ په حیثیت اغېز کوي. حتی کېدای شي چې له هیواده هم وشړل شئ.**



## څلور هغه بنسټیز حقونه چې باید په یاد یې وساتئ:

۱ تاسو مدني حقونه لرئ، د بېلګې په توګه د بیان او دین ازادي.



۲ تاسو د کار کولو حق لرئ. هېڅوک نه شي کولی چې ستاسو د نسل، دین، جنسیت یا ملي اصلیت له امله تاسو ته د کاري دندې له درکولو انکار وکړي.



۳ ټول کوچنیان چې عمرونه یې له ۱۸ کم وي، حق لري چې له زیانه خوندي وي او ساتنه یې وشي.



۴ که تاسو د یو جرم قرباني یاست، نو تاسو حق لرئ چې د قانوني اقدام غوښتنه وکړئ. د یوه جرم په اړه راپور ورکولو لپاره پولیسو سره اړیکه ونیسئ. که بېړنی حالت وي، نو ۹۱۱ ته زنګ ووهئ.




## ځلور هغه بنسټيز مسؤليتونه چې باید پیروي ترې وشي:

١ بل چاته زیان رسول یا ټيپي کول، که د کورنۍ غړي هم وي، غیر قانوني عمل دی. په زیان رسولو کې ازارول، جنسي تیری او کورنی تاوتریخوالی شامل دي.




٢ په یو چا د هغه/هغې له رضایت پرته په زور یو څه تر سره کول، ناقانونه کار دی. هېڅوک تاسې نه شي اړ ایستلی چې واده وکړئ او نه دربانډي بې معاشه کار کولی شي.



٣ ماشومانو سره ناوړه چلند کول یا ماشومان د بالغ کس له څارنې پرته پرېښودل، ناقانونه کار دی.



۴ د ځانګړو نشه يي توکو لکه هیروینو او کوکاینو اخیستل، خرڅول یا کارول، ناقانونه کار دی.




## دوه نور مهم قوانین چې باید ویې پېژنئ:

١ د دې لپاره چې الکولي مشروبات واخلئ او و يې څښئ، نو ستاسې عُمر باید ۲۱ کاله وي.




٢ موټر چلولو لپاره باید د موټر د چلولو لایسنس ولرئ.



تاسو په همدی ډول باید د ایالت او په سیمه ییزو قوانینو ځان پوه کړئ. دې کې عامه ځایونو او کورونو کې د سګریټو څکلو او پرته له لایسنس څخه ماهیانو نیولو او ښکار کولو سره اړوند قوانین شامل دي.

**په یاد وساتئ:** په متحده ایالاتو کې ډېر قوانین شته. د یوه قانون نه پېژندل دا معنا نه لري چې که هغه قانون مات کړئ نو جزا به نه درکول کېږي.

**Cultural Orientation Resource Exchange**
8719 Colesville Road, 3rd Floor • Silver Spring, MD 20910
For more information, visit the CORE Resettlement Navigator website at **settleinus.org**.

The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**